# دَ
# بنائسته خان
# دَ قرضٔ حال

# د ښائسته خان د قرض حال

اے لوستونکو! دا قصه واورئ.

وائی چه یو سړے وو چه نوم ئے ښائسته خان وو. او کور ئے په کوهستان کښے وو. دۀ د روزګار د پاره خپل کور پریښودو. او خپل بال بچ سره هغه علاقے ته لاړو چه د دریاب په غاړه وه. او دۀ په خپل وطن کښے دوکانداری کوله، لیکن په دے کښے هیڅ ګټه نۀ وه او بلکل د پیسو نه کنګال شو، نو خپل دوکان ئے خرڅ کړو او د سفر د خرڅ کار ئے پرے وشو. او روان شو چه دریاب ته ورسیدو، نو د هغه په لاس کښے صرف اتۀ روپۍ باقی پاتے وے. خو دے ډیر بے پرواه وو. ځکه چه خلقو ورته وئیل چه په دے ځائے کښے روزګار ډیر دے، نو یو کور ئے په کرایه واخستلو چه کرایه ئے اتۀ روپۍ د میاشتی وه. او لږه پیشکی ئے ورله ورکړه او خپل سامان ئے په کښے کیښود، او د کار د لټولو د پاره روان شو، خو کار ئے ونه موند. او هغه اتۀ روپے هُم چه ورسره وے د کور په خرچ او په ماتو ګډو رو رو ولګیدلے. او د کور د کرائے د پاره ورسره یوه پیسه هم نۀ وه. او بله دا چه سړے هم ډیر ناراسته وو. او د سخت کار کولو عادت ئے نۀ لرلو، په دے کښے یوه میاشت تیره شوه. بیا چه دویمه او دریمه میاشت راغله، نو د کور خاوند راغلو او ورته ئے ووئیل چه:

وروره! تر اوسه پورے تا ما له صرف اتۀ انے پیشگی راکړیده. زما په تا باندے د کرائے پنځلس روپے کیږی، همدا اوس ئے راته پوره کړه. ښائسته خان ووئیل چه صاحبه! زه ډیر تنگ یم گذاره مے ډیره سخته ده. لږ غوندے صبر راته وکړه. د کور مالک ووئیل چه ښه ده. یوه بله میاشت هم تیره شوه. ښائسته خان بیا د کار د پاره کوشش وکړ، خو کار پیدا نه شو. او اتۀ روپے نور هم قرضدار شو. نو د څلورمے میاشتے په سر کښے د کور مالک بیا راغے او وئے وئیل چه:
اے ښائسته خانه! هغه زما حق خو راکړه. په هغه ساعت د ښائسته خان رنگ تک زیړ شو او ورته ئے ووئیل چه:
اے صاحبه! خبر یم چه ته سخی او رحمدل یئے، نو که چرے تۀ دا درے میاشتے راته وبخښے نو که خُدائے کوی او خیر وی، نو مخکښے د پاره به میاشت په میاشت کرایه در رسومه. هغۀ ووئیل چه تۀ رښتیا وائے که زۀ سخی او رحمدل نۀ وے، نو دومره صبر به مے تا ته نۀ وه کړے، خو یاد لره چه انصاف هم یو شئے دے. اوس تۀ خپل قرض خلاصولے نۀ شی ځکه چه د نور قرض په ورکولو سړے د پخوانی قرض نه نۀ خلاصیږی. پام کوه چه قرض دے میاشت په میاشت زیات نۀ شی. نو د کور مالک ترے لاړو. بیا د رمضان میاشت راغله او ښائسته خان د روژے ماتے د پاره هیڅ نه لرل. او چه بانگ ئے ووئیل، نو د روژے د ماتولو د پاره ورسره نه ښوروا وه او نه تازه ډوډۍ خالی سپوره ډوډۍ وه. او د کور د کرایے د ادا کولو

هم څه درک نۀ لګیده. روژه او ورکوټے اختر تیر شو. او بله میاشت هُم تیره شوه. بیا ئے ډیره اندیښنه پیدا شوه. ځکه چه ورته معلومه وه چه په لوے اختر کښے به د کور مالک راشی او که چرے د کرایے فیصله ونۀ شوه، نو ټول اسباب به مے هم هغه په کوڅه کښے وغورزوی. لوئے اختر را ورسیدو او ښائسته خان سره د قربانۍ د پاره هیڅ نۀ وو. او نه ورسره د اغوستلو د پاره نوے جامے وے. هغه خپلو دوستانو نه مدد وغوښتلو، لیکن هر یو ورته ووئیل چه زمونږ د ټولو هم دا حال دے چه مونږ پخپله هیڅ نۀ لرو، نو تا له به څه در کړو. ځکه چه مونږ هُم دغه شان قرضداران یُو لکه چه تۀ یئے. او مونږ هم په دے بلا کښے ګرفتار یُو. د اختر پنځمه ورځ ده او ورته معلومه وه چه سبا بل سبا زما اخرے ورځ ده، نو په هغه ورځ ئے څه ونۀ خوړل. او سر ئے په لاسونو کښے نیولے وو. او د فکر په ټال زنګیدو چه خدایه! اوس به څه کیږی. کله چه ماښام شو چا دروازه وټکوله ښائسته خان پاڅیدو چه ور ئے لرے کړو، نو څه ګوری چه سید عبدالرحمٰن ولاړ دے چه د هغه مالک زوے وو. او د هغه رنګ ډیر ښکلے وو. لیکن د ښائسته خان زړۀ د غصے نه ډک وو. او د سید سره ئے لیدل نۀ غوښتل، خو سید ورته رانزدے شو او لاسونه ئې ورو ورو وراړده کړل او وئے وئیل چه زۀ راغلے یم چه زیرے درکړم. د پیغور درکولو د پاره نۀ یم راغلے. ما او زما پلار ستا حال ولیدو، نو ستا په حال مو زړۀ وسویدلو، ځکه چه مسافر او بے وطنه یئے.

بیشکه، زما پلار زړۀ سواندے دے. او صرف یوه خبره کوی. او له دے سببه هغه تا نۀ شی معاف کولے. لیکن په کوهستان کښے زما یو میراث وو او هغه ما ته د خرڅ اجازت راکړو. ما هغه میراث په شپږ پنځوس روپے خرڅ کړو. واخله دا پیسی ستا شوے. او په تا چه زما د پلار ځومره کرایه ده، سبا ئے ورکړه.

او خدائے دے وبخښه! چه دا خبره ئے واوریده، نو ښائسته خان د مالک زوئے سپک کړو او د هغۀ ئے هیڅ شکریه ادا نۀ کړه. لیکن په مستئ سره ئے ووئیل چه اے سیدا! تا سره څۀ وکړم؟ ستا خیرات زما پکار نۀ دے. سبا چه ستا پلار وګورم، نو بے غمه به خپل بندوبست وکړم، خپلے پیسے دے واخله. او ما نه لرے شه. هغه پیسے ئے سید ته وغورزولے، او رخصت ئے ورکړو. سید په ډیر زړۀ سواندی سره ښائسته خان ته وکتل، او غلے غلے لاړو. په بله ورځ غرمه د کور مالک پخپله راغے او چه ښائسته خان هغه ولیدو، نو په پښو ئے پریوتو او نارے ئے کړے. وئے وئیل چه:

اے مالکه! په ما باندے ترس وکړه! په ما باندے رحم وکړه! او د کور مالک ورته ووئیل چه: بیګاه ما د خپل زوئ په لاس درته رحم او بخښنه رالیږلے وه، خو تا قبوله نه کړه. اوس ستا د پاره موقعه تیره شوه. نور رحم نشته چه به ئے ومومے. د ښائسته خان خوله بند شوه. او هم په هغه ساعت بهر کوڅے ته وشړلے شو.

او دروازه ور پسے بنده شوه. او مالک جندره ولګوله. ښائسته خان به کور په کور او ښار په ښار د خیرات د غوښتلو د پاره ګرزیدو تر هغه وخته پورے چه له پښو او له لوږے نه پریوتو او په پردی ملک کښے د خپلو دوستانو نه ډیر لرے مړ شو.

## مطلب

اے زما وروره! تۀ د ښائسته خان په شان یئے. د کوم وخت نه چه تۀ په ښو او په بدو پوهه شوے یئے، نو د خُدائے په نزد به ستا قرض ډیر زیات شوے وی. ځکه چه ډیر ځله تا هغه کارونه کړیدی چه هغه ناروا دی. او د هغه کارونو نه غافله ئے چه د کومو د کولو د پاره خدائے تا له حکم در کړے دے. کیدے شی چه کله به تا پخپلو بدو کارونو باندے خیال کړے وی، او نیت به دے کړے وے چه بیا به ئے نۀ کوم. نو ګمان دے وکړو چه په دے شان به زما زوړ قرض خلاص شی. لیکن په دے کار کولو سره تۀ په غلطه یئے.
اے زما وروره! ځکه چه تش په نیت سره زوړ قرض نۀ شی ادا کیدے. او که توبه اوباسے او د بیا د پاره نیک نیت وکړے، نو بیا هم تۀ د خپلو زوړ ګناهونو نه نشے خلاصیدے. تا د پیغمبرانو مدد وغوښتلو، لیکن پیغمبران هم ستا په شان بنی آدمان دی. او هغوی هم ستا قرض ور کولے نۀ شی. ځکه چه هر څوک به خُدائے ته خپل

جواب پخپله ورکوی. خُدائے خبر دے چه د خپلو گناهونه د قرض د ادا کولو د پاره تا سره څه شته او که نه. او هغه خبر دے چه د حساب کتاب ورځ نزدے راغله ، نو په تا باندے ئے رحم وکړو. او هغۀ ستا د پاره یوه د خلاصون لار جوړه کړله. او مونږ تاسو له دا عجیبه زیرے درکوو، نو د عدل تقاضا پوره کولو د پاره صرف هغه څوک حق لری چه په خپله بے قصوره وی. او د سزا لائق نه وی. صرف هغه کولے شی چه د مُجرم په ځائے کښے سزا تیره کړی او قصوروارن خلاصولے شی، نو عیسیٰ مسیح چه په جسد سره ابن مریم دے او په رُوح سره د خدائے زوئے دے، نو هغه دا حق لرے. صرف هغه دے چه د خدائے او د بنی آدم تر مینځه جوړه کولے شی. او چه هغه دے دنیا ته راغلے دے، نو هغۀ خپل د شان او د شوکت میراث چه په آسمان کښے وو پریښود او زمونږ گناهونه ئے واخستل. او زمونږ په ځائے کښے ئے خپل ځان ورکړو. او د ټولے دنیا د پاره ئے په سولئ باندے خپل ځان قربان کړو. او په دغه شان ئے د خُدائے بخښنه پیدا کړه. او نن ورځ دا عجیبه بخښنه مونږ ته راکوی.

اے وروره! که چرے تۀ تر اوسه پورے د خدائے په رحم باندے پوهه شوې نۀ یئے کوم چه هغۀ د عیسیٰ مسیح په وسیله تا ته رالیږلے دے، نو تۀ د ښائسته خان په شان یے. او ستا حال لکه د هغۀ د حال په شان دے ځکه چې ستا گناه ورځ په ورځ زیاتیږی او د حساب ورځ تا ته ورځ په ورځ نزدے کیږی. خبردار اوسه! چه تا هم د

ښائسته خان په شان کارونه کړی دی. او کومه صلحه چه خُدائے تاله راليږلے ده تهٔ ئے نهٔ قبلوے. خدائے غواړی چه تهٔ بچ شے. نو ځکه ئے يو خلاصونکے تا ته راوليږلو که چرے تهٔ ئے نه منے او د دهٔ د بخښنے لاړ خطا کوے، نو د عدالت په ورځ به کوم وخت چه تهٔ د خُدائے په مخکښے ولاړ يئے، نو دا لويه ګناه به په تا باندے راشی. خدا ے د دے دُنيا سره داسے مينه وکړله چه خپل يکی يو زوئے ئے هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوئ يئے ايمان راؤړی هغه هلاک نهٔ شی خو د تل عُمری ژوندُون بيا مُومی. خو چا چه پرے ايمان نهٔ دے راوړے هغه خو د مخکښے نه مُجرم شوے دے ځکه چه د خدائے د يکی يو زوے نه مُنکر دے.

ليکلی دی چه: خُدائے د مسيح په وسيله دنيا د خپل ځان سره پُخلا کوله او د هغوئ ګناهونه ئے د هغوئ په ذمه وانهٔ چول او د پخلا کولو پيغام ئے زمُونږ په حواله کړو. نو اوس مُونږ د مسيح استازی يو. ګويا زمُونږ په وسيله خُدائے دا خواست کوی، مُونږ د مسيح د طرف نه منت کوُو چه دَ خُدائے سره پُخلا شئ. که چرے تاسو نن ورځ د هغهٔ آواز آورئ، نو خپل زړونه مهٔ سختوئ. او زمونږ دا نصيحت واورئ چه خلاصون بيا مُومئ. په دے کار کولو کښے مو خدائے مل شه.